# مسافري/لنډه کیسه

کوچنی ورور یې رالیږلی وو، زه په تناره وم ډوډۍ مې پخوله.
د ډوډۍ له پخولو وروسته چې له تناره راښکته شوم ورور یې
په منډه راغی ویل یې: لالا مې ویل بېګا له لس بجې ګورو بام
له راشه.
ورته ومې وویل: څه خبره ده؟
ویل یې: زه څه خبر یم ویل یې ورله وایه چې ضرور راشه.
حیرانه وم ورته مې وویل: سمه ده.
ټوله ورځ مې په همدې سوچونو کې تېره کړه، ډېر بد احساس
مې درلود.
***

Ketabton.com

ګلاب مې کوژدن وو، په ما پسې یې ډېر ځلې جرګه راولېږله
خو پلار مې نه ورکولم. په وروستۍ جرګه کې مې پلار شل
لکه اوغانۍ ولور کېښود.
یوه ورځ مې په ټوکو کې ورته ویلي وو چې:

هندوستانی شه روپۍ راوړه
په کورنو روپو مې پلار نه درکوینه

(c) ketabton.com: The Digital Library
خو کاش خوله مې ماته شوې وای، ګلاب په رېښتیا تلو.
په هغې شپه مې ورسره ولیدل په ژړا شوم، ویل یې لېونۍ
ژاړه مه بس په یو کال کې راځم. خو هغه دروغجن وو نن یې
څلور کاله پوره شول.
په هغې شپې چې تلو ورته مې کړه چې:

کیدای شي بیا دیدن ونشي
پرېږده چې نن دې غېږ کې سمه وژاړمه

تسلي یې راکوله خو زما زړه چېرته قرارېده؟
په سبا ورځ سهار وختي بام ته پورته شوم، ونو تازه پاڼې کړې
وې د ګلاب دوی کور یې پناه کاوه له پسرلي مې کرکه کېده.
پاو ووت، ګلاب له کوره راووت بېک یې په اوږه وو، پلار یې
ورغاړې ووت، په سپینه ږیره یې اوښکې روانې وې، د ګلاب
مخ پوره نه ښکارېد د توت تازه پاڼو یې له دیدن منع کولم، اه
ظالمو زما بې وسۍ ته مو نه کتل؟
ګلاب زمونږ د کور په خوا راروان شو.

د دېواله له بېخه یې راغږ کړ:ښکلا زه ځم، غږ مې. په ستوني
کې بند وو، یواځې مې اوښکې بهېدې.
د ګلاب سترګې ډنډ شوې، خپل یو کوچنی عکس یې په یوې
ټوټه کې سره له ډبرې غوټه کړی وو بامه ته راوغورځاوه.
پښو کې مې سیکه نه وه کېناستم، ومې ژړل چې راپورته شوم
ګلاب وړاندې تللی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په غريو نيولي انداز مې وويل:

لالی مې ځي زه پسې ګورم
وس مې د خدای په چارو نه رسي مئينه

لالی دې ځي خفه پرې نه يم
په شا دې نه ګوري دا زړه مې پسې چوينه

***

کوټه مې جارو کوله، د بکس خوا کې د ګلاب يو کوچنی عکس پروت وو راپورته مې کړ ورته ځير وم غټې سترګې تور پېکی. سترګې مې راډنډ شوې، غلې دېوال ته کېناستم، له سلګو سره ګډ مې وويل:

جانانه کله چې راياد شې
دېوال ته کېنمه سر ټيټ کړم وژاړمه

تا ويل نن ځم سبا به راشم
مياشتې دې تېرې کړې کلونه دې شمارمه

ستا د راتلو لوظ ميرات شه
زه دې د ګوتو په شمارلو سترې کړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا هندوستان له مرګه تېر شه
زما په تور اوربل کې سپين ولګېدنه

زما دې شال په پړي زوړ کړ
ستا د کولې له کانه نه خېژي لاسونه

مسافري سخته خواري ده
زما زاري ده رب دې راوله مئينه

جانانه خپل وطن ته راشه
دلته دا بندې دروازې مې ژړوينه

## پای

## ليکوال: خسرو شاه مومند

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**